# د میني منزل

هاشم صابر سرهندی





هاشم صابر سرهندی که یو اړخ
ته د کشمالو د ګلونو خوشبویانې په
خپلو غزلو او سندرو کښې د پئیلو
هڅې کوی نو بل اړخ ته د قام په
شلېدلی ګرېوان په ویر هم دے ۔

د خپل زیرک احساس د تل نه که د شعرونو موتی لړی لړی راوباسی نو د دې سره
سره د نثر په مېدان کښې هم د خپل شعور او ادراک نیلے زغلوی ۔

د خېبر پښتونخوا د زوړ ، تاریخی او ادب پاله کلی تانې په کوڅو کښې ئې خړپوسې
کړی دی ۔ او د ژوند بلها ښې بدې ورځې ئې پکښې تېرې کړی دی ۔ په ادب او د ادب
سره په څه نه څه ډول اړیکی لرونکو بې کچه مئین دے ، د شعر و ادب د لارې لاروی
ئې ټول خوښ دی۔

د دوو شعری ټولګو "د کشمالو ګلونه" او " شلېدلے ګرېوان" نه وروستو دا اوس د
افسانو مجموعه د " مینې منزل" په نامه د پښتو ادب جولی ته ډالی کوی ۔ طمع لرم چې
د پښتو ادب مینه وال به ورته په درنه سترګه وګوری او دخوندونو اخستو سره به د
ښاغلی لیکوال د زړهٔ اواز هم په پرانستو غوږونو واوری۔

په ډېره مینه
نقیب احمد جان
کبل سوات
نېټه: ۷ جولائی ۲۰۱۴ء

بیعه =/150

جان کتاب کور


بسم الله الرحمن الرحيم

# د مینې منزل

## محمد هاشم جان صابر سرهندی

جان کتاب کور کبل سوات
نقیب احمد جان اینڈ برادرز حاجی اقبال پلازہ کبل سوات فون :+92 345 951 6961
e-mail: naqibahmed@hotmail.com , naqibahmadjan@yahoo.com

ټول حقـــــونه خوندي دي

د کتاب نوم : د مينې منزل
ليکوال : هاشم صابر سرهندی
رابطه : 03425005428

کمپوزنګ : سعيد احمد انجم
پروپ /املا : اتل افغان سوات
ترتيب او سمونه: اتل افغان سوات
ډيزاين / چاپ چارې: نقيب احمد جان
اهتمام : محبوب عالم او محبوب اعظم

شمېر : پنځه سوه
چاپ نېټه : جولائی 2014
بيعه : 150 روپۍ

# فهرست


| | | | |
|---|---|---|---|
| هاشم صابر سرهندی | : | رحيم شاه رحيم | 06 |
| پښتو ادب او هاشم صابر | | زرنوش شهاب | 07 |
| هاشم باچا | : | اتل افغان | 11 |
| هاشم صابر سرهندی | : | شمس الرحمان شمس | 17 |
| خپلې خبرې | : | هاشم صابر سرهندی | 21 |
| ټانګې والا | | | 23 |
| شاعر | | | 34 |
| د حلالو ګټه | | | 41 |
| لېونے | | | 49 |
| د مينې منزل | | | 60 |
| معاوضه | | | 72 |
| د مينې قرباني | | | 78 |


Pukhto.Net پښتو

# تړون

- د زيتون بانو په نوم ، چې د پښتو افسانې لويه نامه ده .
- د ارواښاد ډاکټر محمد اعظم اعظم په نوم ، چې په پښتو افسانې باندې ئې لوئے علمي او تحقيقي کار کړے دے .
- د صلاح الدين ايوبي په نوم ، چې د انګريزانو فوځونو ته په وړمبی ځل مخامخ شو . او هغوئ ته د ماتې ورکولو په نتيجه کښې لس کم سل کاله وروستو د مسلمانانو وړمبۍ قبله بيت المقدس ، د مسلمانانو په قبضه کښې راغے .

هاشم صابر سرهندی

Pukhto.Net

# هاشم صابر سرهندی

د هاشم صابر خپل پوره نوم پیر محمد هاشم جان سرهندی دے په ادبی دنیا کښې په هاشم صابر سرهندی مشهور دے. د دوئ کورنۍ په اصل کښې د هندوستان د مشهور مقام سر هند سره

تعلق لري. سرهندی د مجدد الف ثانی په اولاد کښې دے.

سرهندی صیب د لوړ قامت او ډولی شخصیت یو سپېځلې شاعر دے. دویٔ د نهم جماعت د طالب علمۍ په ورځو کښې شاعری اختیار کړې ده چې لاتر اوسه پورې د پښتو سره خپل دغه پت پالی. د کشمالو په ګلونو بې کچه ډېر مئین دے. په کلام کښې ئې د کشمالو د ګلونو تذکرې ډېر په خوند رنګ کړې دی.

واورینې ځوکې، (ادبی تذکره)
اروابناد رحیم شاه رحیم
دسمبر 1986ع

## پښتو ادب او هاشم صابر سرهندی

د ملاکنډ د ادب څه بحث یا خبره چې کیږی. نو دغه بحث به د هاشم صابر سرهندی د نوم نه بغیر نیمګړے وی. ځکه چې یوازې د ملاکنډ نۀ بلکې د پښتونخوا په سیمه په ادبی حواله د نوموړی خدمات ښکاره او څرګند دی. او هیڅ څوک ترې هم انکار نۀ شی کؤلے.

دا ځکه چې يو اړخ ته د پښتو ادب دا شاه سوار غزل ، قطعه، نظم او په زړۀ پورې سندرې ليکى. نو بل اړخ ته په نثرى اصنافو لکه مضمون مقاله، تکل او افسانه هم مخې باندې لرى. د ملاکنډ په سيمه او ادبى سرګرمو، جرګو، مرکو، غونډو او مشاعرو روح روان پاتې شوے دے. بې پناه مالى او روحانى قربانۍ او منډې ترړې ئې د ژوندى ادب ثبوت دى. د ژوند په کړکيچنو حالاتو کښې ئې هم د ادب ډيوه بله ساتلى ده. خپل کوشش ته ئې تول عمر دوام ورکړے دے. نن هم ژوندے دے. پرون هم ژوندے وو او سبا به هم ژوندے وى ځکه چې ژوندى او د اولس د زړونو ترجمان شاعران تول عمر حيات وى.

د زمانې کړکيچن حالات او زبون حالى د دوئ په ارادو کښې هيڅ فرق نۀ شى راوستى. لکه چې رحمان بابا وائى:

لکـه ونـه مسـتقيم پـه خپـل مقـام يـم
کـه خـزان رابانـدې راشـي کـه بهـار

هاشم باچا يوازې دا نۀ چې ډېر نثرى او شعرى ليکونه ئې کړى دى. بلکې چاپ کړى ئې هم دى او تردې دمه ئې خپل زيار جارى ساتلے دے.

اوس به راشو د هاشم باچا د افسانو او نثرى ليکو نو دې هڅې ته چې ستاسو د وړاندې ده. د ادب پوهان وائى چې پښتو ادب ته افسانه په کال ۱۹۱۷ کښې راغلې ده. چې لاصدى ئې هم نۀ ده پوره.....د دغې نه راپه دېخوا پښتو کښې ډېرې افسانې ليکلے شوى دى. او يو شمېر کسانو په دې صنف کښې خپل زيار جارى ساتلے دے. د افسانو ښه ښه کتابونه مېدان ته راغلى دى. چې په کښې تحريرى علامتى، او نيم علامتى افسانې شاملې دى. په تحريرى افسانه کښې تهوس او مجرد خيال وړاندې کؤلے شى. په علامتى افسانو کښې د ماضى حوالې او مثالونه په

کار راوستے شي. د هاشم صابر د افسانو نه لوستونکي دا ټول خوندونه اخستے شي.

د دوئ د افسانو پلاټونه زړۀ راښکونکي، عام فهم، ساده دي او هيڅ پيچدګي نۀ لري. کردارونه ئې هم موزون دي. قاري د ځان سره بيائي او هم دغه د ښو افسانو خصوصيات دي. افسانه معاوضه، شاعر، د حلالو ګټه، او ټانګې والا زمونږ د ماحول عکاسي هم کوي او تنقيدي شعور پکښې ځلنده دے. افسانه د مينې منزل هم ډيره ښه افسانه ده غرض دا چې دا ټولې افسانې ځانګړے مقصد لري. د ژوند په هر ډګر زمونږ لار ښودنه کوي.

افسانه معاوضه مونږ ته د شاعر زبون حالي خو ورسره د هغه لوړه حوصله هم په ګوته کوي. خو بيا هم د قلم خاوند کله خپل مات لاس ته ګوري، کله پنځه شلو ښت روپو ته او وائي چې د کوټې چت پريږده چې ځاځي.........

په دې افسانو کښې مونږ ته د سبق سره سره مينه، خلوص او د همدردۍ جذبات او احساسات هم

په نظر راځي . چې ورنه د ښاغلي لیکوال د مشاهدې او په ژوند د مثبت تنقید عناصر څرګندوي . په هره افسانه کښې مجرد خیال د ے. مونږ به دا اووایو چې ښاغلي لیکوال د ژوند د اوچتو اخلاقي اقدارو عکاسي کړې ده. او په دې مقصد کښې کامیاب شوے هم د ے.

ده افسانه او که غزل د صابر
بس یوه مینه ده منزل د صابر
وایم چې قام ئې هیرولے نۀ شي
دا په پښتو ژبه لیکل د صابر

زرنوش شهاب
تانړه ملاکنډ
۲۸مئی ۲۰۱۴

Pukhto.Net
پښتو

# هاشم باچا

باچاجي پیر محمد هاشم جان صابر سرهندی صیب د
مۍ د میاشتې په پنځمه نېټه کال ۱۹۴۷ع کښې په
تانه تحصیل بټ خیله ملاکنډ ایجنسۍ کښې د
محترم شیرین بادشاه (داداجی) کره سترګې غړولې
دی. د ښکلی ښائسته رنګ جوټې او دنګې لوړې
ځوانۍ خاوند صابر سر هندی صیب شاعر، ادیب او

ښه افسانه نګار تعلیم یافته سړے دے. په محکمه ځنګلات کښې نوکر پاتې دے.

صابر سرهندی صیب د ډېرو ښو اخلاقو او نېکو صفاتو مالک دے. ډېر مېلمه پال او د یارانو یار دے هر څو که په ښار کښې اوسی او د لویو افسرانو په څنګ کښې ئې وخت تېر کړے دے خو د لوړ قامته صابر په سینه کښې یو دردناک او مینه ناک زړهٔ درزیږی هغه په هر انسان مئین دے. د هر چا درد محسوسوی غریبان ئې خوښ دی د هغوئ په درد او غم خفه کیږی ځان پورې ئې نیسی او مرسته ئې هم کوی. خپل هر مېلمه ته لکه د کلیوالو خلقو لویږی پاڅیږی او قدروی ئې. او بیا په یارۍ دوستۍ کښې خو دومره ریښتونے او کلک دے چې یو وارې ئې طبیعت درسره اولګېدو نو بیا د هاشم باچا د عمر ملګرے ئې. صابر سرهندی صیب د ډېر پخوا راسې شاعری کوی او نثر هم لیکی. شاعری ئې ټوله د مینې نه ډکه ده که یو خوا د خپل محبوب د مینې د راز و نیاز قیصې په غزل کښې رانغاړی نو بل خوا دې سره

سره د کمزورو بې وسو او غريبانو خلقو د ژوند ستونزې او نور معاشي معاشرتي حالات د نظم په ښائسته شعرونو کښې سمبالوي. باچاجي د کشمالو په ګلونو بې کچه ډېر مئين دے په ټوله شاعرۍ کښې ئې د کشمالو د ګلونو ځائې په ځائې په ډېر ښکلي رنګ ذکر موجود دے لکه:

ټول محفل چغه کړه صابر راغللو
چې خوشبوئي د کشمالو خوره شوه

Pukhto.Net

او د کشمالو سره ئې دډېرې مينې د دې نه غټ بل څه ثبوت کېدے شي چې د خپل وړمبي کتاب شعري ټولګې نوم ئې هم د کشمالو ګلونه ايښودے دے چې په کال ۲۰۰۱ع کښې چاپ دے. هاشم باچا په خپلو ادبي يارانو او دوستانو ډېر مئين دے. باچا وائي چې زما د ځوانۍ په ورځو به زما مېلمستون د شاعرانو اديبانو نه ډک وو بس ادبي ګپونه بحثونه او مشاعرې به کېدې. د ډېرو ښو شاعرانو ملګرو چې نن د تانې

کلي په ادبي پېژندګلو کښې لوئے نوموَنه دی هم د دغه خلقو سره د هاشم باچا بې تکلفه ناسته ولاړه شوی ده.

د هاشم باچا د دويمې شعري ټولګې نوم ((شلېدلے ګريوان)) دے چې هغه په کال ۲۰۱۰ع کښې چاپ دے. په شليدلی ګريوان کښې هم ځائے په ځائے د کشمالو د ګلونو يادؤنه شوی ده. نثر ليکل او بيا ښائسته تخليق کول ډېر زيار او کړاؤ لوئے علمي توان او ادبي تجربه غواړی بيا په تېره افسانه ليکل ډير ګران او سترے کار ځکه دے چې په پښتو ادب کښې د شمار څو کتابونه د افسانو چاپ دی په پښتو ليکوالو کښې د افسانه نګارو شمېر په ګوتو شمېرلے کېږی. بيا پښتو ته خو افسانه په کتابی ډول د شلمې پېړۍ د نيمايۍ نه راغلی ده.

نو په دې اساس وايم چې هاشم باچا په افسانه ليکلو لاس پورې کړے دے څو افسانې ئې ډېر پخوا د پښتو په مشهورو رسالو لکه اباسين او کاروان کښې چاپ هم دی ډېرې ترې ورکې دې هيڅ ريکارډ ئې ورسره نۀ دے پاتې دا په شمار څو افسانې ئې ډېر

په منتونو او خوارو پيدا کړي. څو ئې د يادونو په زور په دويم وار کوشش وکړو. وَئې ليکلې خو د هغې خو بيا هغه تخليقي خوند او ژورتيا نۀ وی کنه، خو شکر دے بيا هم باچاجی دا دے بختور دے خپلې څو افسانې په کتابی ډول سمبالوی چې نۀ هيرې شی او نۀ ورکې.

زۀ په کوټلی ډول د افسانې په جوړښت کړۀ وړه ډول سينګار او نورو اجزاو د معنوی خبرو نه عاجز يم خو بس دومره ښه پوهيږم چې افسانه يوه لنډه قيصه وی هغه د چا خبره د جرنيلي سړک په رنګ چې نۀ ئي د شروع سر معلوم دے او نۀ د ختميدو.

باچا په خپلو افسانو کښې کوشش کړے دے چې د خپلې ټولنې عکس پکښې وځلوی د دې وياړونه او افتخارات هم په ډاګه کړی او نيمګړتياوې ئې هم..... هر څو که ژبه ئې ډيره سوچه کليواله او خوند ناکه نۀ ده ولې چې د ښار د خلقو په ژبه او ژوند د نورو ژبو اثرات ډير وی خو بيا هم لوستونکی له خوند ورکوی او يو خاص معنوی مقصد ته ئې رسوی چې

زما د ټولنې روڼ او ځلاند مخ کوم دے او تورې ناوړه
 څېرې کومې دی........

لوئے خدائے پاک دې باچا له ډېر ژوند ورکړی
چې د پښتو د ناوې د ښائست دا کالی ډېر تیار کړی.

اتل افغان
علی کتابتون
شاه ډیری سوات
اپریل ۲۰۱۳ع

Pukhto.Net
پښتو

# HASHIM SABIR SARHINDI

صابره څوک پرې راختلے نۀ شی
د ملاکنډ د هسکو غرونو په سر

Sabir! No one can capture the highest mountains of Malakand from us.

Pir Mohammad Hashim Jan Sarhindi known as Hashim Sabir Sarhindi comes from a family which had migrated from Sarhind, India. His ancestors had come to Pakistan after partition and settled in Thana village of Malakand Agency. Hashim Sabir was born in the same village in the house of Pir Sherin Badshah Jan Sarhindi on May 5, 1947. His family tree shows his descent from Hazrat Mujaddad Alif Sani, (RA). He is F.A and is working in the Forest Department since 1969.

Hashim Sabir Sarhindi is a poet renowned in the entire Pukhtoonkhwa, but his work is putrefying

because he has no amount to get it published in book form. The author was shown many worn out notebooks, many of them decades old, containing his poetry and short stories. In two of these notebooks he has collected some of his selected Ghazals, Sonnets, Plots and Short Stories and look towards them in the hope that they may be published. But after many years his hope is still merely hope and no well-wisher of the language has dared to help him print what he has named (Da Kashmalu Guloona) and Shaer.

Sabir Sahib started poetry in 1972 when he was a student of 9th class. He possessed qualities of a good poet and when he met a society of co-operative colleagues. His capacities blossomed. His work can be placed among that of prominent poets of Malakand and Puhkhtoonkhwa. In his verses he presents love, charm, velour, hope, despair and traditional values of all.

He believes in constant effort and says that one has to offer sacrifice for achieving one's objective. He writes.

پتنګ په شمع ځان ستی کړی آخر
د سرو لمبو د خپليدو په طمع

The moth finally sets itself on fire in the blaze of the candle.
It does such in a hope to adopt the hot flames.

Sometimes Sabir Sarhindi is very confused and exhausted by being poor and in utter despair. He says:

د هر چا په لاس کښې لعل د بدخشان وی
د صابر په لاس چې راشی نو ایرې شی

Everything becomes a diamond of Badakhshan (Afghanistan) in others possession but when Sabir gets hold of it, it turns into ashes.

May be Sabir has faced hardships while trying to survive. It is a fact that in the modern society of ours one has to go through many tribulations and disappointments if one possesses no money in hand or has no influential approach.

Despite leading a hard life most of Sabir's poetry has grand colour of beauty. He likes beauty from the core of his heart. He always remembers his beloved for being most beautiful. To him the beauty of springs and roses is worthless before his beloved. He says:

د بهار وږمې قربان شه ستا د زلفو د وږمو نه
د چمن ګلان لوګې شه ستا د ښکلو اننګو نه

O my beloved, the fragrance of your ringlets is far better than that of springs and the beauty of roses has no worth before your lovely cheeks.

He is against hypocrisy in love and says:

هغه انسان ته مئين ښنګه اووايم
چې محبت کړي د ريا د پاره

I am not ready to accept those in the category of human being who make love only to cheat.

In spite of sacrificing everything. Sabir is greatly disturbed by the faithlessness of the beloved and blames himself for that.

زۀ سرهندی جوړ په غلطه يم
چې د پی مخو نه وفا غواړم

I Sarhindi do wrong to expect faithfulness from the beautiful ones.

Pukhto.Net

( The Poets of Malakand: by: Shamsur Rehman Shams;)

Pukhto.Net
پښتو

# خپلې خبرې

زما د کتاب شليدلی ګرېوان په مخ کتنه کښې پروفېسر ډاکټر علی خېل درياب صېب ووې چې که هاشم صابر د شعری مجموعې په ځائے افسانوی ټولګه چاپ کړے وے نو ډېره به ښه وه........ولې چې دوئ ډېرې ښې افسانې ليکلی او په مختلفو رسالو کښې ئې وخت په وخت چاپ کړی هم دی....

ما زړۀ ته خبره وغوورزوله او د افسانو چاپولو اراده مې وتړله بيا د خوږ او ګران نقيب احمد جان صېب او اتل افغان په بيا بيا وېنا باندې ما يوه يوه رساله وکتله او افسانې مې راټولې کړې په دغې لټون کښې راسره زرنوش شهاب هم مرسته کړې ده.

زۀ دومره لوئے افسانه نګار نۀ يم زما افسانې چې هر څه دي او هر څنګ دي خو زما د زړۀ آواز دے ما اولس ته وړاندې کړے دے. زۀ د اروښاد رحيم شاه رحيم ، شمس الرحمن شمس صېب ، زرنوش شهاب صېب ، نقيب احمد جان صېب او کشر اتل افغانی هم ډېره شکريه ادا کوم چې زما په افسانو باندې ئې خپل اظهار خيال کړے دے.

هاشم صابر سرهندی

# ټانګې والا

تــوري تشــه ټانګــه پــه روډ روانــه کــړې وه . ســخته ګرمــی وه ســوچ ئــې اوکــړو چــې دغــه د روډ پــه غــاړه چــې د نــیم کومــه ونــه ده ، ســېوري تــه بــه ئــې لــږه ډډه واچــوم او اســپې لــه به هم اوبه خوراک ورکړم.......

د ے یــو فرلانــګ تلــے نــهٔ وو چــې د روډ پــه غــاړه یــو مــوټر ولاړ وو چــې ورســره یــو ســړے او یــوه ښــکلې جینــۍ هــم ولاړ وو. تــوري چــې د مــوټر خواتــه ټانګــه نــزدې کــړه او پــه خــوا ئــې وراغــے نــو هغــه د مــوټر خــوا تــه ولاړ ســړی پــرې اواز اوکــړو ټــانګې والــه!! چرتــه ځــې. تــوري ورتــه اووې ټانګــه چلــوم چــې څــوک مــې چرتــه بیــائی هلتــه ځــم .هغــه ســړی ورتــه اووې چــې مــونږ تــه اچانــک مــوټر خــراب شــو ډېــره ســخته ګرمــی ده ډرائیــور ګــورے چــې کلــه مســتری

راولـــي مـــونږ لـــږ دې مخـــامخ بنګلـــو تـــه ورســـوه تـــورے خوشـــحاله شـــو چـــې ځـــه کـــار اوشـــو هغـــه ســـړی ورتـــه اووې پـــه دې مـــوټر کښـــې څـــه لـــږ ســـامان دے هغـــه تـــرې راوباســـه پـــه ټانګـــه کښـــې ئـــې کېـــږده. ده زرزر د مـــوټر نـــه ســـامان بهـــر کـــړو او پـــه ټانګـــه کښـــې ئـــې کېښـــودو. تـــورے ټـــانګې تـــه اوختلـــو او هغـــه ســـړے هـــم ورســـره پـــه مخکښـــې ســـيټ کښـــې کېښـــانســـتو جينـــۍ وروســـتو پـــه ســـيټ کښـــې کېښناســـته تـــورے يـــو ښـــکلے ځـــوان وو نـــوی نـــوی ځـــوانی پـــرې راغلـــی وه جينـــۍ پـــه مخـــه تـــوری تـــه کتـــل پـــه زړهٔ کښـــې ئـــې وئيـــل چـــې داســـې ښـــکلے ځـــوان ټانګـــه چلـــوی کـــه چرتـــه ده ســـبق وئـــيلے وے نـــو څـــومره بـــه ښـــه وه جينـــۍ دا ســـوچ کولـــو چـــې تـــوری اســـپې لـــه چابـــک ورکـــړو او لکـــه دغلـــو ئـــې پـــه شـــا اوکتـــل. د جينـــۍ زړهٔ راښـــکونکو ســـترګو تـــورے پـــه زړهٔ اوويشـــتو. او پـــه بيـــا بيـــا کتلـــو ئـــې مجبـــور کـــړو خـــو هلتـــه

ټانګه چلول هم پکار وو توری بیا اسپې له چابک ورکړو او یو سوړ اسویلے ئې اوکړو هغه سړے څه ورکوټے نۀ وو چې په څه نۀ پوهېدو د توری نه ئې تپوس اوکړو چې دا ټانګه دې خپله ده ؟ او د څومره وخت نه دا ټانګه چلوې ؟ توری ورته اووې صېب اؤ، ټانګه مې خپله ده دا ټانګه به زما پلار چلوله خو پلار مې ناجوړه شو اوس ئې زۀ چلوم ګني مخکښې به ما ټېکسي چلؤو ...

هغه سړی تری زر خبره واخسته ګنې ته ډرائیور هم ئې .... هو صېب ډرائیور یم ولې څه اوکړم مجبوری ده.

دوئ دا خبرې کولې چې په دې کښې د هغه سړی بنګله راغله او توری ته ئې اووې چې د غه مخامخ بنګلې ته ټانګه اورسوه توری ښی اړخ ته واګې سمې کړې او د بنګلې اړخ ته روان شو سړی ورته اووې دغې دویم نمبر بنګلې ته ټانګه اورسوه

توري هغه ټانګه اودروله کوز شو سړے او جينۍ هم کوز شول.

توري اووې صيب دا سامان راکوز کړم هغه ورته اووې ، هو..... سامان ئې کوز کړو او دننه ئې کړو. خو توري په سامان راکوزولو او وړو کښې هم غلې غوندې هغې جينۍ ته کتل ولې جينۍ هم د توري نه سترګې نۀ ويستلې.

چې ټول سامان ئې دننه کړو توري اووې صيب سامان مې دننه کړو تاسو اوګورئ چې څه پاتې خو نۀ دی صيب توري له شاباشے ورکړو او ورته ئې اووې څومره کرايه دې کيږی توري ورته اووې چې مناسب کرايه راکړه هغه سړی ورته د پنځو سوو روپو نوټ ورکړو توري ورته اووې صيب دا روپۍ خو ډېرې دی زما دومره کرايه نۀ کيږی.

هغه ورته اووې ته محنتي ځوان ئې دا په تا ورکې نۀ دی جینۍ ورته هم اووې کیږده روپۍ دا دومره ډېرې نۀ دی.

هغې سړی ورته اووئیل ځوانه چې کله دې د روپو ضرورت پېښ شو نو ما له راځه زۀ به درسره امداد کوم توری د صیب شکریه ادا کړه او ټانګه ئې روډ ته اوویسته .

توري د خوشحالۍ نه په جامو کې نۀ ځائیدو ولې چې لږ کار باندې پنځه سوه روپۍ دا خو د توری د دوو دریو ورځو مزدوری وه. توري چې ماښام کور ته لاړو نو د ځان سره ئې د پلار د پاره دوائي او نوره د کور سودا اخستی وه چې ټانګه ئې د کور خوا ته اورسوله اسپه ئې پرانسته او په خپل ځائے ئې اوتړله....

توری د کور په دروازه د ورننوتو سره د ډېرې خوشحالۍ نه د دروازې نه مور

ته اووې نن مې ښه مزدوري کړې ده بابا له مې دوائی هم اخستی ده او د کور نوره سودا هم ...... او همممم... دا دوائی واخله او باقي پیسې............

مور چې پیسو ته اوکتل نو حیرانه شوه چې دا دومره پیسې ........ د توري نه ئې تپوس اوکړو که چرې دا پیسې تا په رینښتیا ګټلې وی خو ټیک ده او که نۀ چرې د چا نه په ټانګه کښې غورځېدلې وی او تا په خپله پټې کړې وی نو ښه خبره نۀ ده.

توری وې دا زابانده یو ښه سړے مهربانه شوے وو د پنځو سو روپو په ځائے ئې پنځه سوه روپۍ راکړې ستا زوئے داسې نۀ دے چې پردے حق اووهی که چرې ما دا کار کولې نو په ټیکسی به مې دومره ګټلې وې چې اوس به د خپل ټیکسی موټر خاوند ووم.

مور ئې خوشحاله شوه او په سر ئې ورله لاس راښکلو .... بچيه ! حلاله مزدوري کښې برکت وی د حرامو نه ځان ساته.
ورځې شپې تېرېدې د توری پلار ډېر ناجوړه شو ډاکټرانو ورته مشوره ورکړه چې دے د ښار په لوئے هسپتال کښې داخل کړه د توری سره دومره پېسې چرته وې چې پلار ئې په لوئے هسپتال کښې داخل کړے وے د مور په اجازت ئې ټانګه هم خرڅه کړه خو پېسې بيا هم نۀ برابرېدې مور ته ئې اووې چې هغه صيب پستې ځم هغه راته وئيلی وو که چرې د پېسو ضرورت درته پېښ شو نو زۀ درسره امداد کوم ځم چې د هغې صيب سره خبره اوکړم .....
توری د صيب سره مېلاؤ شو او ټوله خبره ئې ورته اوکړه هغه صيب ورته پنځه لس زره روپۍ ورکړې چې د پلار علاج دې پرې اوکړه او ټانګه دې هسې هم خرڅه

کړی ده ... د پلار د علاج نه وروسته دلته زما سره به موټر چلوې او ښه تنخواه به درکوم.

تورے خوشحاله روان شو په تلو تلو کښې ئې لړه دوائی پلار له واخسته چې د کور په دروازه ورننوتو نو مور ئې په دواړه لاسه مخ اووهو تورې مور ته اووې چې بابا له مې دارو راوړی دی .....

مور ورته په سلګو سلګو کښې اووې چې بابا ته د دارو ضرورت پاتې نۀ شو....

تورې چې پلار ته په غور اوکتل چې مړ شوے دے ... یو سوړ اسویلے ئې اوکړو او د سترګو نه ئې غټې غټې اوښکې روانې شوې.

د غم شپې ورځې چې تېرې شوې نو تورې د مور سره مشوره اوکړه چې قرض راباندې ډېر دے که دې خوښه وی چې

دهغې صيب سره نوکر شم ولې چې هغه ما ته وئيلي وو که ضرورت شو نو زما سره به موټر چلوې ځم چې د هغه سره نوکر شم.

تورے د هغې صيب سره نوکر شو سحر به ئې جينۍ کالج ته وړه او مازيګر به ئې راوړه او کله کله به ئې د هغه صيب په حکم موټر د سمندر غاړې ته رسوو. يو غټ صندوق به ئې يو سړی ته حواله کوو. واپس به راتلو خو واپس راتلو کښې به شک واخستو چې اخر دا څه لويه ده خو د صيب نه ئې تپوس نۀ شو کولے.

يوه ورځ هغه صيب اووې چې په موټر کښې سامان دے دا به د تورې غونډۍ لمن ته اورسوی. خو لږ احتياط به کوې چې نن سبا لږه خطره ده .....

توری ورته اووې ولې صيب زما سره د چا څه کار دے. صيب ورته اووې !! چې په موټر کښې دننه صندوق دے په هغې

کښېـــې هېـــروين پراتـــه دی څکـــه درتـــه وايـــم چـــې احتيـــاط کـــوه تـــوری ورتـــه اووې چـــې دا کـــار زۀ نۀ شم کولې ......

هغـــه صـــېب ورتـــه اووې چـــې دا کـــار تـــا مخکښېـــې څـــو څـــو ځلـــه کـــړے دے اوس څنګـــه انکار کوې.

د هغـــه صـــېب لـــور بـــره پـــه کمـــره کښـــې د پـــلار او تـــوری خبـــرې اورېـــدې . ضـــمير ملامتـــه کـــړه او زر ئـــې پـــوليس تـــه فـــون اوکـــړو . او لـــږه شـــيبه پـــس د بنګلـــې چـــار چـــاپېره پـــوليس ولاړ وو.

صـــېب بـــه لا پـــه تـــوری ډز کولـــو خـــو د ډز نـــه مخکښېـــې ډز اوشـــو او د صـــېب د لاس نـــه تماچه اوغورځېده او پوليس ګرفتار کړو .

جينـــۍ هـــم لانـــدې راکـــوزه شـــوه او يـــو پـــوليس افســـر تـــه ئـــې ټولـــه خبـــره پـــه ډاګـــه کـــړه. پـــوليس تـــوری او جينـــۍ لـــه شاباســـے ورکـــړو . او د تـــوری پـــه اوګـــه ئـــې لاس کېښـــودو او و ئـــې

وئيــــل : چـــې ســـتا غونـــدې ايمانـــدار ځوانـــان چـــې پـــه دې ملـــک کښـــې وی نـــو د ملـــک وران کـــاری بـــه تـــول خپـــل انجـــام تـــه رســـی . بيـــا ئـــې جينـــۍ تـــه اووې ، ســـتا پـــلار خپـــل انجـــام تـــه ورسېدو اوس به ته څه کوې ؟

جينـــۍ اووې : صـــېب ! د پـــلار د ســـر د ســـيوری نـــه وروســـتو بـــه تـــورے زمـــا د ســـر ســـيورے وی . او د تـــوری لاس ئـــې پـــه لاس کښـــې واخســـتو او پـــلار تـــه ئـــې پـــه تلـــو تلـــو کښـــې اووې : چې څه کرې هغه به ريبې .....

# شاعر

بچیه نن ستا پنځویشت کاله پوره شول که دې خوښه وی چې مونږ د خپل زړهٔ دا ارمان پوره کړو... مور دې هم هغه ورځ وئیل چې سلمان له وادهٔ یکسار دے ولې چې په ژوند څه یقین دے چې په زمونږ په ژوندا نهٔ ستا سره ډولۍ په دې غولی راننوځی نو څومره خوند به اوکړی.

بابا زهٔ ستا د ارمانونو قاتل نهٔ جوړیږم چې ځنګه ستاسو خوښه وی هغه شان اوکړئ .....

زما د خپل بچی نه هم دا توقع وه. ښه ده نو مور به دې سبا له د چاچی کره لاړه شی چې د وادهٔ خبره ورسره پخه کړی. او نیټه ورسره اوټاکی. ګل بانو هسې هم ستا

د ورکوټوالي نه ستا په نوم منلی ده خبره د نېټې ده.

بله ورځ د سلمان مور د ګل بانو کورته لاړه د ستړی مه شې خوار مه شې نه وروستو ترې د ګل بانو پلار تپوس اوکړو وایه کنه ورندار څنګه دې لار خطا کړه؟؟

هغې ورته په خبرو خبرو کښې اووې چې ګل بانو د خیره پیغله ده او سلمان هم ځوان شوی دے.... که ستاسو خوښه وی چې مونږ د خپل زړۀ دا ارمان پوره کړو او د ګل بانو سره ډولۍ په خپل غولی ننباسو نو ارمان به مو پوره شی.

زۀ خپله لور ستا زوی له نۀ ورکوم.... ولې چې هغه په دې معاشره کښې هیڅ مقام بیا نۀ مونډو ..... هغه خو بس لسم پاس او یو شاعر دے نۀ ئې څه تعلیم اوکړو او نۀ چرته افسر شو ...... زۀ د خپله لاسه لور ډېران ته نۀ شم غورځولے.

ولې چې ګل بانو ښه تعليم يافته ده .. زۀ د تعليم يافته لور ژوند نۀ شم تباه کولے. زۀ به ګل بانو داسې ځائے ورکوم چې زمونږ او د ګل بانو په معيار پوره وی.

وروره دا ته څه وائی ګل بانو خو د سلمان په نوم د ورکوټوالی نه ناسته ده........ ته اوس انکار څنګه کوې.

ورندار هغه د پخوانی زمانې خبرې وې خلق سپورمۍ ته اوختو او ته لا هغه شان په زړۀ زانګو کښې زانګې ..

د سلمان چاچی خاوند ته اووې يا سړيه دا ته څه کوې؟؟ دا خلق به څه وائی اخر د پښتنو په ملک کښې اوسيږو. دا خو د پښتو خبره ده..

ښځې چپ شه زۀ خپله لور بې تعليمه انسان له څنګه ورکړم. چې د

څه کار نهٔ دے دغه لسم پاس او بې روزګاره ګرځی.. شاعری کوی نور بس الله الله خیر صلا ده. زهٔ به خپله لور یو لوئے افسر له ورکوم چې مستقبل ئې روښانه وی.

ښځې ورته اووې دا د هر چا خپل قسمت وی د هر چا برخه جدا وی. انکار مه کوه د ګل بانو پلار په ښځه سترګې را اوویستې چې غلې شه.. په دې خبره ته نهٔ پوهیږې د پښتو دا متل چا هسې نهٔ دے وئیلے چې د ښځو پوزې نهٔ وې نو غول به ئې خوړل. ته هم د خپلې لور راتلونکی ژوند ته نهٔ ګورې.

چې کله د سلمان مور د کور په دروازه ورننوته خاوند ترې تپوس اوکړو وایه کنه ښځه دې ورسره اوتا کله؟؟؟

د ځواب په ځائے د هغې د سترګو نه غټې غټې اوښکې را روانې شوې او په ژړغونی اواز ئې ورته اووې ستا وروړ د وادهٔ ورکولو نه انکار اوکړو. هغه وائی چې زهٔ خپله لور سلمان له نهٔ ورکوم ولې چې هغه په دې معاشره کښې هیڅ مقام بیا نهٔ مونډو.. نهٔ چرته افسر شو او نهٔ ئې نور څه لاس پښه اوخوزول هغه خو بس یو شاعر دے...

د سلمان پلار د ډیره قهره تاؤ راتاؤ شو زهٔ ورځم چې دے څنګه ګل بانو سلمان له نهٔ ورکوی. اخر دا پښتو هم څه شے دے ښځې ورته اووې په قلاره کېښنه دا د منډې خبره نهٔ ده.. دې خبرې له به وخت ته ګورو د جنګ جګړو نه څه نهٔ جوړیږی نور خلق په ځان پورې نهٔ شو خندولے.

وخت تیریدو او خبره رورو زړیده خو یوه ورځ د کالج په لائبریرۍ کښې د پښتو

اباسين رساله د ګل بانو په لاس کښې وه او پاڼې ئې اړولې راړولې. څه ګورې چې په يوه صفحه د سلمان په دې شعرونو ئې نظر پرېوتو:

ناموس د پښتو د وطن به په امان ساتمه
په خپلو وينو به تازه خپل ګلستان ساتمه

په ګل بانو د سلمان دې شعرونو ډېر اثر اوکړو او سلمان ئې مخې مخې ته کېدو په زړۀ کښې ئې اووې.. چې دومره لويه جذبه د هر چا نۀ شي کېدے.... شاعر د قام سترګې او غوږونه وي. د سلمان سره ئې همدردي او مينه پېدا شوه رساله ئې راواخستله چې کالج چُټې شوه نو نېغه کورته راغله شرم حيا ئې شا ته اوغورځول او د پلار کمرې طرف ته روانه شوه اجازت ئې واخستو .... پلار ورته اووئيل راځه بچيه!! دا دې څه په لاس کښې نيولې دي؟

هغې ورته اووې بابا دا رساله ده په دې کښې د سلمان شعرونه دي بابا تاسو ته

هغــه ســپک ښــکاری اوګــوره د ســلمان دې پــاکې جــذبې تــه لــږ د هغــه دا شــعرونه اوګــوره هغــه خــو د وطــن د پېغلــو محــافظ دے . هغــه د خپــل وطــن د پــاره د خپلــو وينــو ورکولــو نــه هــم دريــغ نــۀ کــوی. پــلار ئــې د ســلمان شــعرونه اولوســتل يــو ځــل او پــه بــل ځــل چــې پــه غــور ئــې پــه شــعرونو ســوچ اوکــړو نــو زړۀ کښــې ئــې د سـلمان سـره مينــه پيــدا شــوه . واقعــی مــا لــه خــو پــه داســې خلقــو فخــر پکــار دے او بيــا پــه تېــزه تېــزه ئــې اووې ســلمان خــو زمــا ورارۀ دے چــا هســې نــۀ دی وئيلــی چــې شــاعر د قــام ســترګې او غوږونــه وی..... ځــم چــې ســلمان لــه شاباشــے ورکــړم او د مــور پــلار نــه ئــې معــافی اوغــواړم ....مــا د هغــوئ زړۀ تــه ډيــر درد رســولے دے او چــې کلــه د ګــل بــانو ســرۀ ډولــۍ د ســلمان پــه غــولی ورننوتــه ......نــو تکبــر غــرور ســپېځلی جذبې ته سر ښکته کړو.

# د حلالو ګټه

اجمل او اکمل د ماښام پاتې شوی ډوډۍ د چایو سره په ناشته کښې اوخوړه مور ورته اووئیل بچو زر کوئ د سکول دربانـدې ناوخته نۀ شی بچو ورته اوئیل چې نن به مونږه سکول ته نۀ ځو...... استاد راته وئیلی دی که دواړو ښبا ته فیس را نۀ وړو نو بیا سکول ته مه راځئ.

مور ئې پلار ته اوکتل چې سړیه د دې هلکانو د فیس غور درسره اوکړه سبق ئې خرابیږی.........

پلار ئې یو سوړ اسویلے اوکړو او ښځې ته ئې په جواب کښې اووې چې دغه تنخواه ده چې د کور ګوزاره پرې په ډېره

ګرانه کيږي که دا د پيسو او فيسونو سبق وي نو د بچو نه دې سبق پاتې واخله ...

ښځې پرې سترګې راويستې چې اوس په بچو سبق هم پرېږدې. اخر ستا شان بابو خو دغه مخامخ کواټر والا هم دے څه ورکره نشته بچې ئې نوې نوې جامې اغوندی ..... سکول ته ښه په ټاټ باټ کښې ځی .. ولې يو ته ئې چې د فيس د لاسه په بچو سبق پرېږدې.

ښځې زۀ به درته څه اووايم چې ځنګه دا مخامخ کواټر واله بابو هم مزې کوی او بچې ئې هم په مزو چرچو کښې سکول ته ځی ؟؟؟ د هغه نور امدن زيات دے د خلقو نه په چل ول پېسې اخلی.

ښځې ورته اووې چې ته هم داسې کوه ځنګه چې دغه مخامخ کواټر واله کوی.

ښـــځې تـــه پوهـــه نـــۀ شـــوې تنخـــواه خـــو زمـــا او د هغـــه یـــو هـــومره ده هغـــه د خلقـــو نـــه بلهې رشوت اخلی. بلهې پېژنې او که نۀ ؟؟

ښـــځې ورتـــه اووې چـــې بـــلهې څـــه پېـــژنم ساده ښـــځه یـــم خاونـــد ورتـــه اووې چـــې بـــلهی نـــۀ پېژنـــې ..... نـــو واوره چـــې بـــلهې څـــه تـــه وائـــی دغـــه بـــابو د خلقـــو نـــه رشـــوت اخلـــی او زۀ دا کـــار نـــۀ کـــوم خپـــل اخـــرت نـــۀ تبـــاه کـــوم ښـــځې ورتـــه اووې چـــې نـــن ســـبا څـــوک دې تـــه نـــۀ ګـــوری... تـــه هـــم رشـــوت اخلـــه چـــې لـــږه ورځ مـــو ښـــه شـــی مـــونږه بـــه هـــم څـــه راحتـــه اومومـــو او بچې به مو سبق هم اووائی ....

خاونـــد ورتـــه اووې چـــې تـــه هـــم مـــا د خپلـــه لاســـه د دوزخ کنـــدې تـــه غورځـــوې زۀ دا کـــار نـــۀ شـــم کـــولے هغـــه د چـــایو پیالـــه نیمګـــړی پـــاتې کـــړه او خفـــه زهیـــر خپـــل چکـــړه ســـائیکل ئـــې د دروازې نـــه بهـــر کـــړو او پښـــه ئـــې پـــرې واړولـــه .... پیـــدل بـــه ئـــې تـــاؤهو او ســـوچ بـــه ئـــې

کولـــو چـــې اخـــر ځــــه اوکـــړم د بچـــو ســـبق مـــې د فـــــیس د لاســــه نیمګـــړے پـــاتې کیـــږی .... ده دا ســـوچ کولـــو چـــې مخـــامخ پـــه ســـکوټر ســـور نــورانی مخـــې لـــه وراغـــې ..... هغـــه ســـکوټر رو کـــړو او پـــه ده ئـــې اواز اوکـــړو چـــې اشـــنا تـــه ئـــې او دغـــه چکـــړه ســـائیکل مـــا تـــه هـــم چرتـــه پـــه مـــزو کښې او نۀ لیدې......

ده ورتــــه اووې اشـــــنا د فــــــیس د لاســــه مـــې د بچـــو ســـبق نیمګـــړے پـــاتې کیـــږی زمـــا ســـره څـــو دومـــره پیســـې هـــم نشـــته چـــې د بچـــو فیس ورکړم زۀ به څه په مزو کښې شم.

نـــورانی ورتـــه اووې اشـــنا زمـــا اومنـــه او زمـــا ملګرتیـــا شـــروع کـــړه پـــه لـــږو ورځـــو کښـــې په د روپو سره لوبې کوې ....

ده ورتـــه اووې اشـــنا ســـتا پـــه ملګرتیـــا کښـــې څـــه داســـې کمـــال دے چـــې زۀ بـــه پـــه لـــږو ورځو کښې د روپو سره لوبې کوم ....

نورانی ورته اووې اشنا څه پیتې اوچتول پکښې نشته، ښه په سپینه جامه کښې به ځې راځې بس د پېښور نه باړه او د باړې نه پېښور ......

دۀ ورته اووې چې زۀ به څه کوم؟؟ کار به مې څه وی ؟

نورانی ورته اووې هېروئن پېژنې او که نۀ ..... دغه به د باړې نه پېښور ته راوړې او ښه پېسې به اخلې.

ده ورته په جواب کښې اووې چې زۀ خو په دفتر کښې د چا نه یو پېسه رشوت نۀ اخلم او ته راباندې د قوم ځوانان او ملک تباه کوې......

زۀ به د لوږې مړ شم خو دا کار به او نۀ کړم .... اشنا داسې نۀ شم کولے...

نو ګرځه دغسې ورک سپک چې بچې دې در په در خاورې په سر ګرځی خلقو د خلقو وینې اوڅښلې او تا راته د ځان نه

بـــزرګ جـــوړ کـــړے دے. خلـــق ســـپوږمۍ تـــه اوختـــو او تـــه لاهغـــه شـــان پـــه زړۀ زانګـــو کښـــې زانګې.

ده پـــــه ســــائیکل پښـــــه ورواړولـــــه او ورتـــه ئـــې اووې چـــې ســـتا پـــه دې خبـــره بـــه ســـوچ اوکـــړم ..........پـــه ســـائیکل روان ســـوچ ئـــې کـــوو چـــې نـــورانی راتـــه بـــد نـــۀ وائـــی د ده ملګرتیـــا شـــروع کـــوم چـــې دا ژونـــد مـــو لـــږ پـــه راحتـــه شـــی...... خـــو ضـــمیر ورلـــه اواز ورکـــړو چـــې د دوو پیســـو د پـــاره د قـــوم ځوانـــان او ټـــول ملک تباه کول دی.

پـــه دې ســـوچ کښـــې د دفتـــر پـــه لـــوئے ګېـــټ ورننوتـــو ســـائیکل ئـــې پـــه ســـټېنډ کښـــې اودرولـــو او پـــه خپـــل دفتـــر ورننوتـــو.. دفتـــری فائلونـــه ئـــې ســـمول شـــروع کـــړل فائلونـــه ئـــې ســـمول چـــې پـــه دې کښـــې چپړاســـی اجـــازت اوغوښتو .... ده ورته اووې راځه ......

چپړاسی راغے او ورته ئې اووې چې منیجر صیب دې غواړی.....

ده ورته اووې ته څه زۀ درځم د کرسۍ نه پاڅېدو .. بهر اووتو ... او د منیجر صیب کمرې ته روان شو . سوچ ئې کولو چې اخر منیجر صیب ما ته څه وائی په دې کښې د منیجر صیب کمره راغله او دهغه چپړاسی ته اووې چې منیجر صیب ته زما د ملاقات د پاره اووایه چپړاسی ورننوتو چپړاسی ورته اووې بابو ملاقات کوی......

هغه ورته اووې ..... دے وراغے ......

منیجر ته ئې سلام اوکړو هغه سلام په ډېره مینه واخستو ... دے ولاړ وو منیجر صیب ورته اووې چې کښېنه ..... دے کرسۍ ته

کښیناستو منېجر صېب ورته مسکے شو او اومبارکی ئې ورله ورکړه.....

ده ورته اووې صېب دا مبارکی دې د ځه راکړه منېجر ورته اووې چې کمپنۍ ستا په ښه کارکردګۍ تا له ترقی درکړی ده.......

ده ورته اووې صېب خندا راپورې ولې کوې دا کرسۍ دې خدائے ستا نصیب کړی او زهٔ ........

او بیا منېجر صېب ورته اووې که یقین دې نهٔ کیږی نو دا واخله چټهی او ورسره د انعام په توګه د پنځه زرو روپو دا چیک چې ستا د ښه کارکردګۍ په وجه تا له په انعام کښې رالیږلے دے. ده چټهی اوکتله او یقین ئې راغې او بیا ئې چیک واخستو نو ډېر خوشحاله شو د ډېرې خوشحالۍ نه ئې دا تپه د خُلې نه اووته.

دخدائے کرم چې په چا اوشی
په لږ ساعت کښې د ملنګ نه بادشاه شینه

# ليـــــونے

اکمـــل کـــور تـــه پـــه منـــډه منـــډه را روان وو پـــه لاس کښـــې ئـــې اخبـــار نيـــولے وو چـــې د کـــــور پـــــه دروازه ورننوتـــــو نـــــو د ډېـــــرې خوشـــحالۍ نــه ئــې چغــې کــړې..... مــورې يـــا مـــورې !!! زۀ پـــاس شـــوم او پـــه ټولـــه صـــوبه کښـــې اول نمبـــر راغلـــم مـــور ئـــې ځـــان تـــه راترغـــاړه کـــړو او پـــه دواړه مخـــه ئـــې ښـــکل کـــړو..... پـــه خوشـــحالۍ خوشـــحالۍ ئـــې اووې بچيـــه دا ســـتا د شـــپې ورځـــې د محنـــت برکـــت وو چـــې تـــه دا اوس پـــه ښـــه شـــان پـــاس شـــوې او په ټوله صوبه کښې اول نمبر راغلې.

دوئ د خوشـــحالۍ دا خبـــرې کـــولې چـې پـه دې کښـې ئـې پـلار کـور تـه راننوتـو چـې ښـــځې او زوى تـــه ئـــې اوکتـــل چـــې ډېـــر خوشـــحاله دى.. غـــاړه ئـــې تـــازه کـــړه او

ورنـــزدې شـــو او ورتـــه ئـــې اووې چـــې مـــور او زوے ولـــې دومـــره خوشـــحاله دي؟؟ اخـــر مـــا خو هم خبر کړئ ......

اکمـــل ورمنـــده کـــړه د پـــلار پـــه غـــاړه کښـــې ئـــې لاس واچـــول او پـــه خوشـــحالۍ خوشـــحالۍ ئـــې ورتـــه اووې بابـــا زۀ پـــاس شـــوم او پـــه ټولـــه صـــوبه کښـــې اول نمبـــر راغلـــم بابـــا اوس خـــو بـــه مـــې پـــه کـــالج کښـــې داخلـــوې کنـــه... تاســـو خـــو بـــه وئيـــل چـــې لســـم پـــاس کـــړه زمـــا دا ارمـــان دے چـــې پـــه کـــالج کښـــې مـــې داخـــل کـــړې او لـــوئے ډاکټـــر جـــوړ شـــوے .... بابـــا هغـــه وخـــت اوس راغلـــے دے پـــه کـــالج کښې به مې خامخا داخلوې .....

پـــلار ئـــې ورلـــه پـــه ســـر لاس راښـــکلو او ورتـــه ئـــې اووئيـــل بچيـــه زۀ بـــه ســـتا او دا خپـــل ارمان پوره کوم.....

دوئ دا خبـــرې کـــولې چـــې د اکمـــل مـــور خاونـــد تـــه اووې هلـــه ورشـــه او متهـــائی

راوړه.. چې خپله د ګاونډيانو خُله پرې خوږه کړو.

د اکمل پلار د کوره روان شو او بازار اړخ ته ئې لار اونيوه خو په لاره باندې فکر واخستو چې دومره پېسې د کومې راوړم چې اکمل پرې ثلور سوه ميله لرې په کالج کښې داخل کړم ؟؟ دغه پرې کوم چې د کور ګزاره پرې په ډېره ګرانه کيږي په دې سوچونو کښې ډوب د متهايۍ د دکان نه ئې متهائي واخسته او کور ته واپس لاړو..

د متهايۍ ډبے ئې داکمل مور له ورکړو. چې اول پرې په خپله خله خوږه کړه او يو دا نه ترې ماله راکړه نوره اکمل له ورکړه چې په دوستانو او چم ګاونډ کښې پرې د خلقو خله خوږه کړي.

اکمل چې د کور نه اووتو نو ښځې ته ئې اووې چې مرجانۍ زوے خو دې شکر دے پاس شو خو دومره پېسې د کومې

راورم چې اکمل ځلور سوه میله لرې په کالج کښې داخل کړم ...... خو داسې چې اوکړم چې په لالا پسې به لاړ شم که قرض راله راکړی نو کار به روان شي.

بله ورځ د مشر ورور کره لاړو سترې مه شې خوار مه شې نه وروستو ترې رور تپوس اوکړو چې چرته دې داسې لاړ خطا کړه خیر خو دے کنه؟؟ ده ورته اووې چې لالا اکمل پاس شوے دے او په ټوله صوبه کښې اول نمبر راغلے دے زما سره خو دومره پیسې نشته چې اکمل پرې په کالج کښې داخل کړم او که چرته تاسو راسره ښه اوکړئ او څه پیسې قرض راکړئ نو کار به روان شي ......

لالا ورته په جواب کښې اووې چې رور جانه زما خو پخپله ګوزاره په ګرانه کیږی. زما دې حال ته نهٔ ګورې ؟؟؟ که نهٔ خندا راپورې کوې.

د اکمل پلار ورسره دویمه خبره غبرګه نۀ کړه او زړۀ ماتے ئې د کوره روان شو .... سوچونه ئې کول چې اخر څه اوکړم. خو دا قلبه ده دا به خرڅه کړم او د اکمل د کالج کار به پرې روان کړم ..... د ښځې سره ئې مشوره اوکړه اوس به دا قلبه خرڅوم ولې چې نن سبا څوک چا له قرض نه ورکوی او بیا مونږ غریب باندې څوک هم اعتبار نۀ کوی....

ښځې ورته اووې ځان د قلبې نه خلاصوې ؟؟؟ اخر مونږ به خپل پوله پټے په څه کوو...

ده ورته اووې الله مالک دے سبا هسې هم په ښار کښې میله ده دا خړے او چرګے به اوس خرڅوم بله چاره نۀ جوړیږی.

سبا سحر وختی ئې خړے او چرګے میلې ته روان کړل یو اخستونکی ترې

تپوس اوکړو وایه کنه دا غوایان دې خرڅوې ؟؟

هغه ورته اووې روره نمائش له مې نهٔ دی راوستی .... دا قلبه ما په ډېره مینه ساتلی وه خو مجبوره یم چې نن مې د خرڅ د پاره مېلې ته راوستی ده ...د اخستونی سره د ډېرو خبرو اترو نه وروستو بیعه اوشوه او خړے او چرګے دواړه ترې هغه روان کړل ....

ده پیسو ته اوکتل په سترګو کښې ئې اوښکې راغلې .... دا قلبه ما څومره په ناز ساتلی وه. ولې نن مې د مجبورۍ د لاسه خرڅه کړه.

اکمل په کالج کښې داخل شو عمر د باد په شان تېرېدو. پنځه شپږ کاله د سترګو په رپ کښې تېر شول. د هاؤس جاب نه وروستو اکمل د لېونو په هسپتال کښې ډاکټر اولګېدو څه موده خوبه ئې د

کور سره خط کتابت کوو خو اکمل په ځان پوهه نهٔ شو او په غلطو محفلونو کښې ئې ناسته پاسته شروع کړه مور او پلار ئې هډو د فکر نه اووتل ......

ډېره موده تېره شوه چې د کور خبر خبرئې وا نهٔ خستو د مور او پلار سره ئې فکر پېدا شو چې اکمل ولې مونږ هېر کړو ښځې خاوند مشوره اوکړه چې د اکمل د حال نه ځان خبرول پکار دی. دوئ په دې خبره اتفاق اوکړو...... ښځې ورته اووې چې ښار ته لاړ شه او د اکمل د حال نه ځان خبر کړه. بله ورځ د اکمل پلار د ځان سره د کلی میوې او د مور د لاس خوږې ډوډۍ واخستې ...... ښار ته روان شو چې د ګاډی نه کوز شو نو حق حېران اودرېدو یو سړی ترې تپوس اوکړو چې بابا ولې داسې حېران ولاړ ئې ده ورته اووې چې دلته د لېونو په

هسپتال کښې زما زوے ډاکټر دے خو ما ته د لېونو هسپتال څه معلوم دے....

هغه سړے هوښيار وو. د ښار ګوټ ګوټ ورته معلوم وو د اکمل پلار ته ئې د لېونو د هسپتال درک ورکړو. بيا هم په تپوس تپوس ئې ځان د لېونو هسپتال ته اورسؤو .....

د هسپتال په دروازه ولاړ چپړاسي نه ئې تپوس اوکړو. چې دلته اکمل نوے ډاکټر شته هغه ورته اووئيل چې بابا دغه مخامخ دفتر ئې دے . د کړکۍ په شيشو کښې ئې زوے اولېدو دوه درې کسان ورسره ناست وو.....

ده چپړاسي ته اووې چې ورشه ډاکټر ته اووايه چې پلار دې راغلے دے.

چپړاسي دفتر ته وراغے او ډاکټر ترې تپوس اوکړو چې داسې بې تپوسه دفتر

تـــه راغلـــې چپړاســـی ورتـــه اووې چـــې جـــې ستاسو پلار راغلے دے......

ده تنـــد ے اووهـــو کـــه پـــلار مـــې راشـــی نـــو ملګـــری بـــه مـــې څـــه وائـــی ؟ ولـــې چـــې هغـــه خـــو یـــو خـــر پـــر بانډیســـے دے ده چپړاســـی تـــه اووې چـــې زمـــا د پـــلار خـــو پـــرون مـــا تـــه خـــط راغلـــې وو ورشـــه هغـــه تـــه اووایـــه چـــې ډاکټـــر نشته هغه به څوک لیونے وی.

د اکمـــل پـــلار د دفتـــر خـــوا تـــه ولاړ وو دا تپولـــه خبـــره ئـــې پـــه غـــوږو واورېـــده. دے د هســـپتال نـــه راووتـــو. کورتـــه ئـــې ځـــان راورسولو.

ښـــځې تـــرې تپـــوس اوکـــړو چـــې وایـــه کنـــه زمـــا بچـــے څنګـــه وو؟ هغـــه ورتـــه پـــه جـــواب کښـــې اووې چـــې بچـــے دې خـــو روغ جـــوړ وو او ښـــه پـــه مزوکښـــې وو خـــو هغـــه د خپـــل پـــلار د پـــلار ولـــی نـــه انکـــار اوکـــړو او کـــه نـــور اوربـــدل غواړې نو هغه خپل پلار ته لیونے اووې.

ښځې ورته اووې زما بچې داسې نه شي کيدې. هغه زما د سترګو تور د زړه ټکور دے هغه په بله دنيا کښې ګرځي هغه ورته اووې ... ولې زۀ درته دروغ وايم. ستا بچې هغه نۀ دے هغه په بله دنيا کښې ګرځي دغه ډېره ده چې زوے دې ډاکټر شوے دے.

مور ئې اووې زۀ به ورله سترګې رڼا کړم هغه مونږ څومره په ناز ساتلے وو زمونږ خو يو زوے دے په خپلې غريبۍ کښې مونږ په هغه دومره سبق اووې ..تر دې چې قلبه مو خرڅه کړه .....

سبا له ورته مور يو خط کښې اوليکل د سترګو توره د زړه ټکوره !!! ستا د ليدلو د پاره ستا پلار درغلے وو تا ئې د پلاروليۍ نۀ انکار اوکړو. او خپل پلار ته دې لېونے اووې ..... لږ په خپل ګرېوان کښې اوګوره چې دې پلار په تا څومره په سختو

سبق اووې تر دې چې ستا د سبق د پاره ئې خپله قلبه خرڅه کړه او ته ئې ډاکټر کړې. د مور او پلار زړۀ ازارول ښه کار نۀ دے مونږ خو هسې هم ژوند خوړلے دے ....ته خوشحاله اوسه څوک داسې سترګې نۀ پټوی. اکمل ته درې ورځې پس د مور خط ورسېدو چې خط ئې اوسپړدو خط ئې يو ځل اولوستلو بيا ئې اولوستلو نو چغې ئې کړې هغه لېونے نۀوو. هغه زما پلار وو هغه لېونے نۀوو زما پلار وو. د دفتر نه ئې بهر ته منډه کړه مازغو ئې کار پرېښودو د برنډې د ستنې سره ئې سر اولګېدو ...راپرېوتو... چې نور ډاکټران راغونډ شول اپرېشن تېټر ته ئې يوړو چې ډاکټرانو ئې معائنه ئې اوکړه نو د لېونو د هسپتال ډاکټر پخپله لېونے شوے وو.

Pukhto.Net
پښتو

# د مينې منزل

د ګلی د پېدا کېدو سره په ټول کور کښې د خوشحالۍ ورمې په هر اړخ خورې شوې. ولې چې د معزالله ما ما په کور کښې يو هم ورکوټې نۀ وو. خدائے پاک ورله په ډېرو دعاګانو زوے ورکړو. خو د قدرت کارونه ګوره چې ګلے لا د يو نيم کال شوے نۀ وو چې

مـور ئـې د دنيـا نـه رحلـت اوكـړو. او د غسـې ګلے پـه وركوتهوالى د مور د مينې نه بې نوا پاتې شو. ولې معز الله ماما به د ګلى ډېر خيال ساتلو. معزالله ماما د كلى يو پوهه تركاڼ وو تر خپلـه وسـه بـه ئـې د خلقـو خدمت كولو. دۀ چې به كله په دكان كښې كار كولو. نو ګلے بـه ئې خوا ته ناست وو. چې معز الله كاكا به لږ ساه شـو نـو ګلے به ئې زر څان تـه رانـزدې كړو او پـه دواړه مخـه ئـې ښـكل كـړو. د ګلـى سـره د پـلار دومـره مينـه وه چې يـو وخت به ئې د خوا نـه جدا كېدو نـو زړۀ بـه ئـې قـرار نـۀ مونـدلو. خـو د خـدائے پـاك كارونـه وو چـې ګلے پـوره د دريو كالو شو نو د پلار سـيورے ئـې هـم د سـر نـه لـرې شو او د غسې ګلے ايكى يـوائې پـاتې شـو. د ګلـى تـرۀ چې په بر كلى كښې اوسېدو د څان سره ئې خپـل كـور تـه بوتلـو. ښـځې ورتـه ډېـر اووې چـې پـه دۀ څـۀ كـوې د ماماګـانو كـره ئـې اولېـږه ولـې د ګلـى تـرۀ پـه ښـځې ستركې راويستې چې دا هم لكه د زرځانګې زمـا اولاد دے. كه زۀ ستا خبره اومـنم نـو د كلـى خلـق بـه راپـورې خاندى، چې خپـل ورارۀهم نۀ شى ساتلې. زما هسې هم

نارينه اولاد نشته زر ثانګه او ګلے هسې هم همزولي دي. دواړه به لوبې کوي. چې مونږ له خدائے راکوي نو ګلی له به ئې هم ورکوي. اخر ښځه په دې راضي شوه. او په زړۀ کښې ئې اووې که چرے ګلے لوئے شي نو زمونږ ملا به پرې مضبوطه شي.

ګلے او زرثانګه دواړۀ همزولي وو ټوله ورځ به ئې د يو بل سره لوبې کولې. ځان له به ئې د خاورو وړے کوټګۍ جوړولې. يو بل ته به ئې په تته ژبه وې چې مونږ کوټګۍ د هر چا نه ښکلي دي ګلی به ځان له کوټګۍ جوړه کړه نو د زر ثانګې سره به ئې هم په کوټګۍ جوړولو کښې مدد اوکړو. چې کله به دوئ کوټګۍ جوړې کړې نو زر ثانګې به ګلی ته په تته ژبه اووې چې دا زما کوټګۍ او دغه ستا ته په دغې کښې اوسه او زۀ به په دې کښې . ولې ګلی به ورته اووې چې زر ثانګې مونږ دواړه به په يوه کوټګۍ کښې اوسو. په داسې خبره به زرثانګه خفه شوه. او ګلی ته به ئې اووې زما دا خپله کوټګۍ ډېره خوښه ده. ولې ګلی به په دواړه لاسه اونېوه چې راځه زما دا کوټګۍ ډېره لويه

ده دوارۀ به په دې کښې اوسو. عمر د باد په شانتې تېرېدو د ګلی شوندړه شنه شوه او په زر ځانګې هم د ځوانۍ بهار راغے د لوئيدو سره سره د دوئ د ورکوټوالی مينه د زړونو په دړدونو کښې بدله شوه.

ګلی به د ترۀ سره د ترکاڼۍ کار کولو. ګلے چې به کله دکان کښې ناست وو نو زړۀ به ئې د زرځانګې سره وو. او اکثر به ئې دا سوچ کولو چې يرۀ زرځانګه به زما شی او کۀ نۀ. ولې چې د زر ځانګې د حسن په ټول کلی کښې خبرې کېدلې. اګر چې هغه د يو ترکاڼ لور وه ولې حسن خدائے پاک داسې ورکړے وو. چې د کلی لوئے لوئے مالدارن او ښکلی ځوانان پرې د سر و ماله تېر وو. زرځانګه به چې کله د جينکو سره ګودر ته تله نو د کلی ډېر داسې ځوانان چې ځان ته به ئې څه وئيل د دې د يو ځل ليدلو د پاره به د ګودر خواۀ شا ته کېدل. ولې زر ځانګه به پټ مخ او کوزې سترګې تله راتله او د چا خاطر به ئې په زړۀ کښې نۀ راوړو. او چې کله به زر ځانګه پټ مخ کورته راغله . نو د کلی د ملک يو زوے چې ځان ته به ئې ادم خان وې د

ډېره قهره تاؤ راتاؤ شو چې ګورئ د خوار ترکاڼ لور ته چې ما ته هډو ګوري نهٔ......... په زړهٔ کښې به ئې اووې چې ګورو به يو ځل به ستا دا پټ مخ ما ته پخپله ښکاره شی.

شپې ورځې تېرېدې يو ځل ګلے د دکان نه دځه کار د پاره کور ته راغلو نو چاچی ئې کور نهٔ وه او زرڅانګه ناسته په لوپټه ئې ګلونه کول. ګلے غلے راغے او خوا ته ئې اودرېدو ولې زر څانګه په ګلونو کولو کښې داسې ډوبه وهٔ. چې ټول فکر او توجه ئې په ګلونو وه. ګلے يو شيبه غلے ولاړ وو خو زرڅانګې بيا هم سر اوچت نهٔ کړو. نو ده غلی غوندې اووې زر څانګې په ګلونو کولو کښې داسې ډوبه ئې چې هډو سر ترې نهٔ پورته کوې. چې زرڅانګې سر اوچت کړو نو ګلے ئې مخې ته ولاړ وو. دواړو يو بل ته د زړهٔ په مينه اوکتل او په سترګو سترګو کښې يو بل ته مسکی شول. ګلی زر لوپټې ته لاس کړو او زرڅانګې ته ئې اووې چې دا به زمونږه دواړو د وادهٔ لوپټه وی زهٔ نن شپې له هسې د چاچی سره خبره کوم چې دواړه د ژوند ملګری جوړ

شو. نو بیابه ته ئې او مینه مینه به وی. زما او ستا به ځان له کور وی. دوئ لاد مینې خبرې کولې چې په دې کښې د دروازې ګړب شو نو ګلی زر پرتې اړې ته لاس کړو او روان شو چې چاچی ورله مخې له وراغله نو تپوس ئې اوکړو چې ګلے بچیه چرته راغلے وې ؟؟

چاچی دا اره مې دکان ته وړه. ولې هغه پوهه شوه چې اره هسې بهانه ده په زړۀ کښې ئې اووې چې نن به د زرڅانګې د پلار سره خبره کوم چې د دواړو رشته پخه شی نو ګلے به په کور پاتې شی او دغسې به مونږ ټول په دې کور کښې اوسو. ګلے به پوخ ددې کور شی.

دې په زړۀ کښې دا کرل رېبل کول ولې د کلی د ملک زوے چې په زرڅانګه د سر وماله تېر وو مور ته ئې اووې که مالـه وادۀ کوئ نو د کلی د معزالله کاکا لور زرڅانګې سره زما وادۀ اوکړئ. که چرې داسې یو وَ نۀ کړو نو زما نه زړۀ صبر کړئ.

مور ئې ورته په حېرانی اووې دا ته څه ګډې وډې وائې تۀ او زر څانګه..... هغه د یو غریب ترکاڼ

لور به زما کور ته په ډولۍ کښې راځي؟...نا....نا....
داسې به هيڅ کله هم وَ نهٔ شي. لږ سوچ اوکړه هغه
زمونږ قابله نهٔ ده. زهٔ به تاله داسې ځائې کښې وادهٔ
کوم چې زمونږ د معيار وی او څه نه څه ورپسې په
جهيز کښې هم راشي.

موري زر ځانګه زما ژوند دے...... زهٔ د هغې
نه يوه ګړی هم ځان له ژوند نهٔ شم تېرولے.......... دوئ
دا خبرې کولې چې په دې کښې مشر ملک کور ته
راغے تپوس ئې اوکړو چې مور او زوے ځان له څه
داسې خبرې کوئ. ما خو هم لږ پوهه کړئ ښځې ورته
ټوله خبره تېره کړه. ملک هم سوچ واغستو. ولې
هوښيار سړے وو د زوی په سر ئې لاس راکښو او ورته
ئې اووې چې څنګه ته وائې هغه شان به کيږي. سبا له
به ناظر ورشي چې د ترکاڼ ماما سره خبره اوکړي.

ناظر په ډېره هوښيارتيا د ترکاڼ ماما سره د
ملک د زوی د رشتې خبره اوکړه. ولې ترکاڼ ورته
اووې ، چرته ملکانان او چرته زهٔ غريب ترکاڼ ....... زهٔ
خو د هغه نمک خوار يم. زهٔ دې فيصلې ته هيڅ کله هم

تيار نهٔ يم. ولې ناظر ترکاڼ ماما له ډېر لالچ ورکړو او ترکاڼ ئې په دې راضي کړو چې د کوژدن نېټه ورسره مقرر کړي. خو په دې شرط چې د ښځې سره به خامخا په دې حقله مشغولېږي.

د شپې چې زرښانګه ځان له په کټ کښې د ګلې په فکر کښې ډوبه پرته وه او د مينې ګلونه ئې جوړول...... پلار ئې رو رو د دې مورته وې چې د ملک د زوی سره چې د زرښانګې کوژدن اوشي نو ډېره به ښه وي .....

مور ئې نهٔ راضي کېدله. هغې ورته اووې چې ګلې او زرښانګه د يو بل سره مينه کوي. ګلے هسې هم زمونږ بچے دے چې د زرښانګې رشته ورسره اوشي نو په کور به پاتې شي .

ښځې!! ته نهٔ پوهيږې چې د زرښانګې رشته د ملک د زوی سره اوشي نو لور به دې هم مزې کوي او مونږ به هم څه عزت بيامومو. ملک څه ورکوټے سړے نهٔ دے.

دوئ دا خبرې کولې. او د زرخانګې په زړۀ کښې په دې خبرو اورېدو سره اور بل شو خدايه پاکه دا څه اوشول زما د مينې محلونه تهول په ورانېدو شو خو زر ئې ځان له حوصله ورکړه...نا...نا...... زۀ به هيڅ کله هم د ملک د زوی سره وادۀ وَ نۀ کړم د هغه کره به زما د ډولۍ په ځائے زما جنازه ځی.

يوه ورځ چې په کور کښې څوک نه وو زرخانګې ګلی ته د ملک د زوی سره د خپلې کوژدنې په باب له د خپل مور پلار اراده ظاهره کړه. ګلی چې څنګه دا خبره واورېده نو سر تر پښو اور لمبه شو . د ډېره قهره ئې خپلې شونډې وچيچلې او زرخانګې ته ئې اووې دا به هيڅ کله هم وَ نۀ شی ته زما د زړۀ دنيا او زما د خوبونو تعبير ئې .... ته خو زما د خزانونو بهار ئې. زرخانګی دا مالدارن د غريبو خلقو مينه په پېسو اغستل غواړی. ولې داسې به هيڅ کله هم وَ نۀ شی. راځه او زما ملګرتيا اوکړه ، که زما د ژوند ملګری جوړېږې او ستا زما سره په ريښتيا مينه وی. نو زۀ چې ځو دا وخت دے ګنې بيا به ارمان کوې او ګوتې به

مرورې. زرڅانګه ساه نيولي شوه او په ويره ويره ئې د خولې دا خبره اووته دا خو ډېره ګرانه ده څه بل سبب نۀ جوړيږی ګلی ورته اووې کـه چرې دا خبـره پـه دې ځـائے پاتې شی نو ستا کوژدن به د ملک د زوی سره اوشی . خو بيا به وخت تېر وی. که چرې ته زما سره په ريښتيا مينه کوې نو لاس زما په لاس کښې راکړه چې زر تر زره دا کلے پرېږدو. او د دې ظالم سماج نه لرې ځان له يوه جونګړه جوړه کړو.

زر ځانګې د ګلی پـه لاس کښـې لاس ورکـړو او ځنګل اړخ ته روان شول. چې مازيګر د زرځانګې مور او پلار کور ته راغلل نو کور پاک پروت وو. دواړه ئې ډېر اوکتل خو د کور خوا ؤ شا تـه هـم پيـدا نۀ شـول. پـه ټول کلی کښې خبره خوره شوه. او چې د ملک زوی تـه دا خبره اورسېده نو اور لمبه شو نوکرانو تـه ئې اوئيـل خواره شئ هغوئ به اوس هم پـه دې ځنګل کښـې چرتـه روان وی.

د ملک نوکران پـه ځنګـل کښـې ځائے پـه ځائے خـوارۀ شـول. ولـې د ډېـرو کوششـونو بـاوجود دواړه د

هیچا په نظر رانغلو. خو د دوئ د بیاموندو د پاره د ملک زوی ډېر انعام مقرر کړو. اول خو مې ژوندی پکار دی او که داسې نۀ وی نو کار ئې خلاص کړئ.

ګلې او زرڅانګه په منډه او کله رورو روان دی. چې زرڅانګه سترې شی نو د ګلی په اوږه لاس واچوی، او یو اړخ ته د سپوری لاندې کښېنی. څو میله چې ئې مزل اوکړو. نو ګلی زرڅانګې ته اووې دغه دے زمونږ منزل رانزدې شو. زر کوه لاس راکړه د دغې پورې غونډۍ نه هغه اړخ ته د بل ملک ملکی ده کېدے شی هغه مونږ له پناه راکړی.

زرڅانګې د ګلی په لاس کښې لاس ورکړو. خو د ډېرو کوششونو باوجود هغه زرڅانګه راپورته نۀ کړے شوه ........ ګلے وار خطا شو.

دوئ لا په دې کشمکش کښې وو چې د ملک د نوکرانو په دوئ نظر شو یو خوار شوی پرې د کلاشنکوف ګولۍ اوچلولې. او زرڅانګه د زړۀ په سر اولګېده. او د ګلی د لاسه ئې لاس خلاص شو او لاندې را وَغورځېده. ګلی چې لاندې اوکتل نو وارخطا شو په

دې وار خطائي کښې زخمي ګلے هم سر دلاندې راپريوتو خو رو رو ئې زرځانګې ارخ ته ځان وروښويولو. د ګلی او زرځانګې د څو قدمونو فاصله وه. چې بيا يو ناتار ډزې شوې او ګلے هم د زړۀ په سر اولګېدو. خو بيا هم رو رو په تولان تولان ئې ځان زرځانګې ته اورسولو. او د هغې لاس ئې په لاس کښې واخستو سر ئې د زر ځانګې په څنګل کېښودو.

په ساه وتو وتو کښې ئې اووې : مونږ د خپلې حقيقي مينې منزل بيا موندو. اوس به په بله دنيا کښې د ريښتينې مينې محلونه جوړوو، چرته چې دا ظالم او بې درده سماج نۀ وي.

رساله : اباسين ، پېښور
نېټه: مارچ ، **1992**

# معـــــاوضــــــه

جينى.....ځخــــوبى زور اوكـــــړو، بـــــاران پــه مخــه وربـــړى خــو داســـې درســـره اوكـــړه، زمـــا د افســـــانو اوغزلونـــو دغـــــه فايلونـــــه راوخلـــــه او چرتـــه صـــندوق كښيـــږ ئـــې بنـــد كـــړه هســـې نـــۀ چـــې زما د ژوند دا ټوله سرمايه ئې په نظر شى.

د خپلــــو دغـــــو ســـــرخوړلو فـــــايلونو درســـــره ډېـــــر غـــــم دے ګـــــورې چــــې څــــه دې پكښـــې خونـــدى كـــړى دى ؟؟ ولـــې زمـــا د مـــور د لاس دغـــــه د څلـــور ســـوو مشـــين تـــه دې هـــډو خيـــال نشـــته .... چـــې هغـــې مـــا لـــه څـــومره پـــه مينـــه اخســـتے دے. او د خپلـــو دغـــه افســـانو او

غزلونو درسره دومره غم دے چې وار پار ئې درنه خطا کړې دی. په وخت مې درته وئيلی وو چې سړيه د دې کوټې غور درسره اوکړه که باران شی نو ډنډه به ترې جوړه شی.... ولې ته زما خبره په يو غوږ اورې او په بل ئې اوباسې.او په جواب کښې راته لا دا وائې چې افسانه مې ليږلی ده پيسې به ئې راشی نو بيا به د کوټې بندوبست اوکړم .... نۀ خو تا اوسه پيسې راغلې او نۀ دې د کوټې نور څه غور اوکړو. پرېږده چې دا ټول کاغذونه د اوبو خوراک شی چې بيا د افسانو او غزلونو نوم په خُله نۀ اخلې. او رېښتيا دا ستا زړۀ په چا پسې دومره نا قلاره دے . چې په مخه ئې په شعرونو او افسانو کښې ستائې. ما خو په زړۀ کښې ډېره اوساتله خو وَ نۀ شوه. نن ئې درته صفا او په ډاګه وايم که زۀ دې نۀ يم خوښه نو راته اووايه چې د پلار کره لاړه شم.

جینی......زۀ هم درته وایم چې بکواس مۀ کوه شاعر او ادیب کله هم په چا یو کس نۀ وی مئین. د هغه سره خو تل د قام اولس څه چې د کلهمې دنیا غم وی. او د دې غم سپکولو د پاره شعرونه، افسانې او داسې نور دېر څه لیکی. ولې ستا غوندې دوډی غړپه په دې باریکو څه پوهیږی.

سړیه......خپل دغه ورکوتی شان فایل درنه هر څه هېر کړی دی که داسې ناست ئې نو دا څخوبے به دې په کوټه کښې د پښې لګولو ځائے هم پرې نۀ ږدی. ورشه بهر چرته خاوره وَکنه او د کوټې د پاسه ئې خوره کړه.

یه جینی......لیونی شوې که......دا د شرق او ناتار باران او ته ما ته وائې چې بهر نه خاوره راوړه ؟؟ داسې باران کښې خو دا بلکل د کېدو نۀ ده.

ښه اوس دا خبره شوه.....سړيه درته وايم چې باران دومره نۀ دے شومره چې تا ته ښکاري. ورشه د يو شو منتهو کار دے دا د ژمي باران دے که په مخه داسې وريږي نو د پوالونه به اوبه واخلي هسې نۀ چې دا کوټه راباندې کښيني.

بس کړه جينۍ !!! نوره راپسې ژبه مه راوباسه پوهه شوم چې په قلاره مې نۀ پريږدې راوړۀ هغه کودالــه او بالټې چې ورشم.

او چې کله هغه خاوره کنستله نو سر تر پښو داسې لوند خوشت شو لکه چې د اوبو ډنډ ته غورزېدلے وي. خاوره ئې او کنستله او ډک بالټې ئې په سر کېښودو. کور ته راروان شو، چې درز شو پړمخې راپرېوت. او چې په ځان پوهېدو نو ښي لاس ئې مات وو. چغې ئې کړې ...... د کور محلت خلق راووتو. نو هغه خوار ختهو کښې

لت پت پروت وو. د محلت د خلقو سره خدائے ښه شی چې پورته ئې کړو او تر کوره ئې اورسولو.

ما درته نهٔ وې، چې باران دے په قلاره مې پرېږده...... ښه شوه چې د زړهٔ ارمان دې پوره شو اوس به زهٔ خپلې نیمګړې افسانې او نظمونه څنګه پوره کړم. زر کړه تره ئې ګنې د لاس نه خلاصېږم. لا به خدائے خبر چې هغه له سوخته نور څه وئیل چې په دې کښې ناڅاپه د هغوئ دروازه اوډبولې شوه. هغه اواز اوکړو څوک ئې....او د بهر نه اواز راغے ډاکې یم جی.... ستاسو یو منی ارډر دے.

او چې شاعر د منی ارډر واورېدل نو د خوشحالۍ نه ئې د لاس درد هېر شو. او د ځان سره ئې غلې غوندې اووې. څه که خېر وی کار اوشو. غونډې دوهٔ سوه روپۍ دی. په دې دومره روپو څه نهٔ کیږی. د منی ارډر

په فارم په ګس لاس د څه وران ویجاړ دستخط کولو نه پس چې ډاکی ورته څلور د لسو او یود پنځۀ روپو نوټ ورکړو نو هغه کله روپو ته کتل کله ئې ډاکی ته او کله خپل مات لاس ته....او ډېره شیبه پس ئې په افسوس سره اووې. ایله دغه پنځه څلویښت روپۍ. زما د تخلیق بس دغه هومره قدر....او هغه هم هله چې لاس نه خلاص شوم. په دې خو د لاس پټۍ هم نۀ کیږی. او د کوټې چت خو لاپریږده چې..........................

رساله : کاروان ، پاړه چنار ، کرم ایجنسی
نېټه: نومبر 1986

Pukhto.Net
پښتو

# د مینې قربانی

وخت د ېر لرې پاتې شوے وی. ولې مونږ په روستو کتوضرور مجبوره شوی یو. د وخت په ائینه کښې مونږ وروستو خپل ماضی لیدے شو. د تېر ژوند په کتاب کښې د ټولو نه اول عنوان د یادولو دے.

یادونه، کوم چې زمونږ د تېر ژوند ګواهی ورکوی، یادونه....د کومې په وجه چې مونږ پاتې ټولې ورځې شپې تېروو.

وخت خو تېر شي .....خو وروستو ډېر داسې يادونه پرېږدي کوم چې د نه هېرولو وي. څو مره ښکلې او زړه رابښکونکې موسم وو د يخنۍ شپې ورځې وې کله چې زمونږ دواړو په اول ځل ملاقات شوے وو. زما په يو لاس کښې تېلۍ او په بل لاس کښې کتابونه د سړک په غاړه ولاړه د ټيکسۍ انتظار مې کوو. په اسمان وريځې خورې وې او نرى نرى څاڅکې شروع شوى وو. ما د باران نه د بچ کېدو د پاره ډېر اخوا دېخوا اوکتل خو داسې ځائے نۀ وو. چې ما ځان د باران نه بچ ساتلے وے. باران رو رو زياتېدو او زۀ هم د سړک په غاړه رو رو روانه شوم. زۀ لږه تلې نۀ ووم. چې زما وروسته د موټر د هارن اواز راتلو. چې ما په شا اوکتل نو يو ښکلے ځوان په يو ښکلي موټر کښې ناست وو او ما ته ئې په موټر کښې د کښېناستو اشارې کولې. خو زۀ

دے مــار روانــه ووم ،پــه شــا مــې نــۀ کتــل خــو اخــر هغــه ځــوان مــوټر زمــا خــوا تــه رانــزدې کــړو او مــا تــه ئــې اووې چــې پــه دې دومــره بــاران کښــې بــه تــر کــومې پــورې پېــدل ځــې. دا وخــت تــا تــه څــه ټيکســى هــم نــۀ شــى مــيلاؤ ېدےتــه ويريــــږې ولې....راځــــه زۀ بــــه دې تــــر کــــوره اورســوم زۀ مجبــوراً د هغــه ســره پــه مــوټر کښــې کښيناســــتم ولــــې ويــــرې دومــــره اخســــتى ووم چــې د خُلــې نــه مــې خبــره نــۀ وتــه...يو خــوا يخنــى او بــل خــوا مــې جــامې بــاران داســې لوانــدې کــړې وې چــې وچ تــار پکښــې نــۀ وو پــاتې، دعاګــانې مــې کــولې چــې خدايــه پاکــه ما خپل کورته په خېريت اورسوې.

هغـــه زمـــا نـــه دوه درې ځلـــه تپـــوس اوکــړو چــې محترمــې تاســو بــه کــوم ځــائې تــه ځــې او ستاســو کــور کــوم ځــائې دے. ولــې زمــا پــه خُلــه داســې مهــر لګېــدلے وو چــې غــږ تــرې نــۀ ختلــو. د هغــې وجــه يــو خــوا ســاړه او بــل خــوا

ويره وه. ټول وجود مې رپېدو. هغه چې زما دا حالت اولېدو نو د يوې کيفۍ خوا ته ئې موټر اودرولو. ما ته ئې اووې راځه چې يوه پياله پياله چائے اوڅښو چې ستا دا يخني لږه کمه شي.... زۀ مجبوراً د هغه سره کيفۍ ته ورننوتم. هغه د چايو آرډر ورکړو او ورسره ئې د کېک وغېره هم اووې......

چائے راغلو او ما په رپېدو رپېدو پياله اوچته کړه. او د يو څو ګرم ګرم ګوټونو نه ورسته زما طبيعت لږ ښه شو او بيا د هغه په بار بار تپوس ما د خپل کور پته اوښوده. هغه اووې مونږ اتفاقاً ميلاؤ شوی يو، نو پکار ده د يو بل نه ځان خبر کړو. هغه راته خپل نوم اختر اووې زۀ خو هسې د کلي اوسېدونکے يم خو دلته په يونيورستۍ کښې سبق وايم.

هغه د يو مالدارې کورنۍ ښکلے ځوان وو. د ژوند د ضرورت ټول سامان

ورلـــه خـــدائے ورکـــړے وو هغـــه اووې مـــا خـــو درتـــه خپـــل ټـــول حـــال احـــوال اووې اوس کـــه تـــه مهربـــانی اوکـــړې او خپـــل نـــوم راتـــه ظـــاهر کـــړې نو مننه به وی.

پـــه جـــواب کښـــې ورتـــه مـــا اووې زمـــا نـــوم غزالـــه د ے زۀ هـــم پـــه يونيورســـټۍ کښـــې سبق وايـم د دې نـه وړانـدې مـا نـور هـيڅ هـم وَ نـۀ وې. خـو هغـه زر اووې کـه خفـه کيـږې نـۀ نـو مـونږ بـه کلـه کلـه د دوسـتانو پـه شـان د يـو بـل سـره مېلاوېـږو زۀ هسـې هـم د هغـه د خلـوص او د زړۀ راښـکونکې ځـوانۍ نـه متـاثره شـوی ووم. مـا پـه جـواب کښـې ښـه اووې. خبـرو خبـرو کښـې زمـا کـور راغـے او مـونږ يـو بـل تـه پـه مخه ښه اووې.

ورځـې شـپې تېرېـدې او مـونږ دواړه د يـو بـل سـره کلـه کلـه مېلاوېـدو او د غسـې د وخـت تېرېـدو سـره سـره زمـونږ مينـه نـوره هـم زياتېـده. مـا ايـم.اے اردو پـه ښـه نمبـرو پـاس

کړو او دغسې اختر هم د ډاکټرۍ امتحان پاس کړو. هغه به اکثر وئيل غزالې زمونږ دا ملاقات هم څومره عجيبه ماحول کښې شوے وو.

په جواب کښې به ما اووې.... هغې عجيبه ماحول عجيبه رنګ راوړو. ما خپلې مور ته د اختر سره د خپل ژوند د ټرون خبره مخکښې ځرګنده کړې وه. ولې چې په دنيا کښې خو زما دغه ايکې يوه مور وه، کومې چې د پلار د مرګ نه پس زما د پاره خپل ژوند خاورې ايرې کړے وو. او زۀ ئې کله هم خفګان له نۀ ووم ورکړې. او دغه وجه وه چې ما د هغې نه څه پټ نۀ شو ساتلے او دغسې اختر زمونږ د کور فرد جوړ شوے وو.

ورځې شپې تيرېدې او مونږ دواړو د يو بل سره د ژوند د ملګرتيا وعدې کولې. خو يوه ورځ په اختر پسې د کوره تار

راغـــے چـــې ورور دې نـــاجوړه دے تـــه ځـــان زر تـــر زره راورســـوه. اختـــر كـــور تـــه لاړو او زۀ يـــواځې پـــاتې شـــوم. د هغـــه پـــه تلـــو ســـره زمـــا د ژونـــد شـــپې ورځـــې ډېـــرې ترخـــې تېرېـــدې. مـــا بـــه هـــر وخـــت د هغـــه ســـوچ كولـــو. ولـــې چـــې هغـــه زمـــا مخـــې مخـــې تـــه كېـــدو. ډېـــرې ورځـــې تېـــرې شـــوې خـــو زۀ د اختـــر د حـــال احـــوال نـــه خبـــر نـــۀ شـــوم. او نـــۀ هغـــه د خپـــل حـــال نـــه زۀ خبـــر ســـاتلى ووم. مـــا بـــه اكثـــر ســـوچ كولـــو چـــې اخـــر زمـــا نـــه داســـې څـــه خطـــا شـــوې ده چـــې اختـــر زۀ داســـې هېره كړم.

درې مياشـــتې پـــس اختـــر راغـــے خـــو اوس اختـــر هغـــه اختـــر نـــۀ وو كـــوم چـــې درې مياشـــتې مخكښـــې دلتـــه وو. ببـــر وېښـــته لـــوئې حجامـــت مـــړاوى ســـترګې زۀ حېرانـــه شـــوم خـــو اختـــر زر اووې چـــې زمـــا رور د دې دنيـــا نـــه بلـــې دنيـــا تـــه رحلـــت كـــړے دے هغـــه د زړۀ بيمـــار وو يـــو ځـــل پـــرې د زړۀ داســـې دوره راغلـــه چـــې

مونږ ټول کور ئې په ژړا پرېښودو. او زمونږ نه ئې بلې دنیا ته رحلت اوکړو د هغه په دې خبرو زما په سترګو کښې اوښکې راغلې ولې چې د هغه د رور د مرګ خبر په ما باندې هم ډېر اثر اوکړو.

دغسې شپې ورځې تېرېدې او اختر په کله کله زمونږ کره راتلو خو یوه ورځ اختر اووې چې غزالې راځه چې چرته لرې د سمندر غاړې ته لاړ شو. زۀ ستا سره څو خبرې کول غواړم......

مونږ دواړه د سمندر غاړې ته لاړو. هغه زما لاس په لاس کښې واخستو او ما ته ئې اووې چې زۀ نن تا ته هغه خبره کول غواړم. کومه چې زما او ستا..........

هغه غلے شو خو ما ورته اووې وایه کنه دا څه داسې خبره ده چې د خُلې نه دې نۀ اوځی.

هغه اووې مونږه دوۀ رونړه وو... زما مشر وروز زما نه مشر وو. د هغه نه پېغله ښځه او دوۀ بچي پاتې شوی دی. او زما مور او پلار زما د کونډې ورندار سره وادۀ کول غواړی زما کونډه ورندار زمونږ د يو دهقان لور وه. دهقان زمونږ د کور خپل سړے وو يوه ورځ هغه ناڅاپه مړ شو. او وړه لور ئې زمونږ کره پاتې شوه. زما مور او پلار په هغې تعليم اوکړو. او خبره دې ته اورسيده چې زما د مشر ورور وادۀ د هغې سره اوشو. غزالې ما ستا خبره مخکښې د خپل مور او پلار سره کړې ده .. هغوئ راضي وو. او اوس هم راضي دی او دا وائي چې مونږ تا نۀ مجبورۀ. ته د غزالې سره خبره اوکړه چې تاسو څنګه فيصله اوکړه هغه به مونږ ته منظوره وی. اوس وايه غزالې ستا څنګه خوښه ده؟

ما د ډېر سوچ نه وروستو اختر ته اووې ماله لږ مهلت راکړه. او ما د څو ورځو د سوچ نه وروستو دا فېصله اوکړه چې د خپل ځان او خپل ژوند د ښه کېدو د پاره خو هر انسان ژوندے اوسی. خو د بل د پاره مینه او خپل ژوند قربانول د تولو نه لویه قرباني ده. او بیا په تېره تېره د دوؤ ورو ماشومانو د پاره ما اختر ته اووې اګر چې زۀ ستانه بغېر ژوند نۀ شم تېرولے. ما په ژوند کښې یو ځل مینه کړې ده او هغه هم ستا سره. خو ستا د کور ودانۍ او سوکالۍ د پاره زۀ هرې قربانۍ ته تیاره یم....

اختره ځه واپس لاړ شه او د هغې ورو ورو ماشومانو د سر سېورے جوړ شه. کوم چې د پلار د مینې نه بې اسرې پاتې شوی دی. او دغسې اختر په مات زړۀ واپس لاړو.

د اختر په تلو سره زما ژوند څه ژوند پاتې نۀ شو. زۀ په کالج کښې لیکچراره

شوم. او خپل ژوند مې د ملک د بچو د مستقبل د ښائسته کولو د پاره وقف کړو.

يوه ورځ د کالج نه په موټر کښې کور ته راتلم چې ما هغه منظر اوليدو يو هلک په موټر کښې ناست يو ې جينۍ ته وائي چې تېز باران دے راځه زما سره په موټر کښې کښېنه.

ما چې دا منظر اوليدو نو زړه مې ناقلاره شو او موټر مې تېز کړو. ولې چې د دې منظر د ليدو پته ما کښې طاقت نۀ وو. ما ته بار بار اختر رايادېدو ما په تصور کښې د هغه سره خبرې شروع کړې ... زما مينه خو ستا د پاره وه ما خو خپل ټول ژوند او ټوله مينه تاته وقف کړې وه.

اختره....ستا د تلو نه وروسته زما مور ډېر کوشش اوکړو چې زۀ د بل چا سره وادۀ اوکړم ولې زۀ د بل چا سره وادۀ ته تياره

نـــۀ ووم. او د غســـــې زمـــا مـــور زمـــا د وادۀ ارمـــان د ځـــان ســـره ګـــور تـــه يـــوړو. او زۀ يـــواځې پـــاتې شـــوم. د هغـــې نـــه وروســـتو تـــا هـــم زمـــا څـــه خبـــر وا نـــۀ اخســـتو. د مـــور د مـــرګ پـــه اســـتاذی دې هـــم ســـترګې راښـــکاره نـــۀ کـــړې. تـــه زمـــا نـــه پـــه څـــه خفـــه ئـــې. تـــا چـــا تـــه وئيلـــی دی چـــې زۀ د غزالـــې ســـره د شـــرمه ســـترګې نـــۀ شـــم لګـــولے...... نـــو ګـــوره فېصـــله خـــو مـــا کـــړې وه. پـــه دې کښـــې ســـتا څـــه ګنـــاه وه؟؟؟ اختـــره!! قربـــانی خـــو هـــم انســـــان د انســـــان دپـــــاره ورکـــــوی...... اوس د ژونـــد ډيـــره برخـــه تيـــره شـــوې ده. افســـوس چـــې تـــه يـــو ځلـــې راغلـــې او هغـــه خپـــل امانـــت دې واخســـتې کـــوم چـــې تـــا پـــه ډېـــره مينـــه زمـــا د ګـــس لاس په ګوته په لاس کړے وو.

هغـــه ګـــوتۍ اوس هـــم زمـــا پـــه ګوتـــه ده او ســـتا د پـــاکې مينـــې يـــاد تـــازه ســـاتی. ولـــې افســـوس چـــې زۀ اوس هغـــه نـــۀ يـــم پـــاتی. زۀ خـــو اوس د نـــری رنـــځ هغـــه مريضـــه يـــم چـــې نـــۀ مـــرم

او نۀ رغېږم پوره شل کاله تېر شول. خو خبر ئې چې دا څنګه تېر شول....د مرګ او ژوند په کشمکش کښې......اختره !!!! زۀ به تر هغې پورې ژوندی يم چې يو ځل ستا ديدن اوکړم نو بيا به ما له مرګ ډېر په اسانه راشي............ هسې خو اوس هم زۀ په ژوندا نۀ مړے يم.....!!!

رساله : اباسين
نېټه: دسمبر 1990

Pukhto.Net
پښتو

# د ليکوال نور چاپ اثار

د کشمالو ګلونه :
(پښتو شاعري)
چاپ کال : 2001

شلېدلې ګريوان
(پښتو شاعري)
چاپ کال : 2010

د مينې منزل
(پښتو افسانې)
هم دا کتاب
چاپ کال : 2014